په بُتانو او خپلو پلرونو قسم مه کوئ

له عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «په بُتانو او خپلو پلرونو قسم مه کوئ».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طواغی (بُتانو) له قسم کولو څخه منع فرمایلې ده، او طواغي د طاغية جمع ده، او دا هغه بُتان دي چې مشرکانو به يې له الله جل جلاله پرته عبادت کاوه، او همدا يې د ګمراهۍ او کفر لامل وګرځېدل، همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم په پلرونو له قسم کولو څخه منع کړې ده؛ دا په جاهلیت کې د عربو عادت و چې په پلرونو به يې د ویاړ او تعظیم له مخې سوګند کاوه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8959